# مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لاَ يَذْكُرُ رَبَّهُ، مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ

له ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لاَ يَذْكُرُ رَبَّهُ، مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ»، ولفظ مسلم: «مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ». «د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي او د هغه چا مثال چې خپل رب نه يادوي د ژوندي او د مړي دی»، او د مسلم الفاظ داسې دي: «د هغه کور مثال چې الله پکې يادېږي او د هغه کور مثال چې الله پکې نه يادېږي د ژوندي او د مړي دی».

[صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله د يادوونکي او د هغه د نه يادونکي تر منځ توپير داسې بيان کړی لکه د ژوندي او مړي تر منځ د ګټې رسولو او ښايسته مظهر په لحاظ توپير، نو د هغه چا مثال چې خپل رب يادوي د هغه ژوندي انسان په څېر دی چې ښکاره يې د ژوند په رڼا او باطن يې د علم په رڼا ښکلی او ګټور وي، او د هغه چا مثال چې الله نه يادوي، د هغه مړي په څېر دی چې ظاهر يې بې ګټې او باطن يې باطل وي او هېڅ ګټه پکې نه وي. همدا ډول هغه کور چې اوسېدونکي يې الله يادوي ژوندی بلل کېږي، که نه نو هغه مړ کور دی ځکه چې اوسېدونکي يې د الله له يادولو نه سست دي؛ که څه هم په حديث کې د کور يادونه په مړي او ژوندي کور سره شوي ده خو موخه ترې د کور اوسېدونکی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4177